سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۱۲/۰۹

# دا زه څوک یم؟

کله جوړ رانه ولی شی، کله جوړ لوی ګناهکار شم

کله شم قاتل د میني، کله جوړ د ښکلو یار شم

کله ژمی د غضب شم، زورومه خوار وګړي

کله باغ شم د ګلونو، ښکلی ښکلی نو بهار شم

کله اور شم سُوزومه، تنکی هیلی په سینو کی

کله ځواني غوټی سپیرم، لکه پربنه د سهار شم

کله دومره ستر ضدی شم، ابوجهل رانه جوړ شی

کله سم نوشیروان شم او دعدل انصاف پلار شم

کله ورور د شیطان جوړ شم، تباهی د عالم غواړم

کله یار د ابراهیم(ع) شم، یار د اور او د انګار شم

هـم قصــاب یم هم پسه یـم، کلیوال د هغه کلی

چی هر کار ته مخه وکړم، پښـیمان په هغه کار شم

زه ورک شوی یم له ځانه، څوک پوهیږی چی زه څه یم؟

یو تعریف راته پیدا کړی، چی ملګری د روزګارشم

دسمبر/۲/۲۰۱۹

ایجکس ــ تورنتو ــ کاناډا

*** *** ***

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

دا زه څوک یم

S_klewal_daa_ze_sok_yom.pdf